# د جمال خان د مرګ په پېښه

## د رحمان بابا، حمید بابا او عبدالقادرخان خټک د قصیدو پرتلیزه کتنه

**Tracking the Historical Event of Jamal Khan's Family Genocide Through the accounts of Pashto Classical Poets:**

نورالحبیب نثار[*]

Abstract: *Literary history witness that, most of the Pashtoon societies have been relying on the oral tradition. Therefore it has rare written sources that narrate several events, trends, cultures and reaction of overall Pashtoon society to different social and natural disasters. This paper is going to validate the incident of the callous genocide of Jamal Khan's family due to his arrogance and unconditional support to the Mughals. The scholar triangulates the narratives of different classical poets and historians that include Rahaman Baba, Abdul Hameed Baba, Abdul Qadir Khan Khattak, Afzal Khan Khattak and Major Roverty.*

د پښتو ادبي تاریخ څخه جوته ده چې د جمال خان د مرګ د پېښې په باره کښې د هغه وخت درېو لویو شاعرانو، رحمان بابا، حمید بابا، او عبدالقادرخان خټک خپل تأثرات او احساسات د قصیدو په بڼه قلمبند کړي دي. دغه درېواړه د پښتو ژبې او ادب کلاسیک شاعران او مخکښان دي. تر دې پخوا چې د دوی قصیدې سره مقایسه کړو، په کار دي چې د جمال خان د مرګ پېښه د تاریخ په پاڼو کښې پسې وګورو.

نومیالي محقق او نقاد دوست محمد خان کامل مومند په خپل کتاب "رحمان بابا" کښې د نومیالي مستشرق مېجر راورټي د کتاب، (Selection from the Poetry of the Afghans)، په حواله د جمال خان د مرګ د پېښې شالید (پس منظر) داسې بیانوي:

"د ناصرخان د کابل د صوبېدارۍ په زمانه کښې په ۱۱۲۲ هجري کښې جمال خان چې د مومندو له خدرېزي څانګې ؤ، د خپل اولس په مشرۍ مقرر کړی شو او په دې دوران کښې د خپل یو عزیز عیسیٰ کلی ئې ولوټلو او وران ئې کړو. هم په دغو شپو ورځو کښې د جمال خان د

[*] Ph.D. Scholar, Department of Pashto, University of Peshawar

زوی جلال خان وادهٔ هم کېدونکی ؤ او صوبېدار ناصرخان دې وادهٔ کښې د خرڅ دپاره له خپله طرفه دوه زره روپۍ هم راليږلې وې. د وادهٔ په شپه چې جمال خان دوی غافله وو، عيسٰی خپل عزيزان او ملګري راغونډ کړل او د جمال خان دوی په کلي ئې چپاو وکړو. هر څو که جمال خان د دې چپاو د ځواب دپاره تيار نهٔ ؤ، خو بيا هم هغه مقابلې ته راووتلو او په جنګ کښې د ژوبل کېدو نه پس ئې د خپل کور په چارديوارۍ کښې پناه واخستله. عيسٰی کور ته اور ورته کړو او د جمال خان ټوله کورنۍ او ډله چې نر، ښځې، ماشومان اتيا کسان وو، په اور کښې ژوندي وسول." (۱)

د ځنو پېښو په روښانولو کښې ځنې وخت ځنې اولسي روايتونه هم لوی لاس کوي. استاد کامل د جمال خان د مرګ د پېښې په باره کښې يو اولسي روايت را نقل کوي او ليکي:

"دا جګړه په سرګړي شوې وه. جمال خان چې د مومندو د مشترزو کلي ؤ، د خوا و شا د کلو په خلقو به ئې زياتي کوله او هغوی به ئې د خپلې برخې سرګړي وهلو ته نهٔ پرېښودل. اخر د مومندو د ماشوخېلو، ماشوګګر او اديزو کلو عالم راټول شول، په مشترزو ئې چپاو وکړو او د جمال خان کور ته ئې اور ورته کړو چې هغه په کښې سره د خپل زوی، خېلخانې او ملګرو وسولو." (۲)

د جمال خان مرګ د پښتنو په سيمه د هغې زمانې لويه غميزه ده. د هغه وخت نامتو مؤرخ افضل خان خټک دغه پېښه په خپل کتاب، تاريخ مرصع، کښې داسې درج کړې ده:

"پس له فوته د اورنګزيب بادشاه جمال مهمند او بعضې ظاهربين کوته انديش ورسره سر په شورش پورته کړی ؤ. په مهمند کښې موسرېزی ؤ او موسرېزي په مهمند کښې کمزورې تپه ده. غرض ئې دا ؤ چې په دا شورش کښې به د ما نامه ناموس وشي، اربابي به بيامومم. په دا ميان کښې ډېر افراط تفريط ورځخه وشهٔ. هرګاه چې په سن زر سل دوه ويشت صوبه داري د دارالملک کابل په نامه د ناصرخان شوه، پېښور ته راغی، اربابي ئې ورکړه. اما د دهٔ ناکردې چې پخوا د ناصرخان تر سردارۍ يا په

صوبه داري کښې ئې د ناصرخان کړې وې، د ناصرخان په خاطر وې. په خپلې اربابۍ کښې ئې کلی د عيسٰی مهمند هم وواهٔ، په تل ئې ختنه وکړه. عيسٰی مهمند په خپل خېل کښې زورور دی، جوړه ئې د ناصرخان سره وکړه. د مغل، په ويرانۍ کښې د پښتانهٔ خپله مدعا ده. مصرع:

به هر طرف که شود کشته سود اسلام است.

په دا ميان کښې د جمال د زوی د وادهٔ کار پېښ شهٔ. ناصرخان دوه زره روپۍ هم په طريقه د انعام ورکړې. نور عيسٰی په تهوم د مغلو ځری وربسې کړ. هغه شپه چې ئې د زوی وادهٔ ؤ، د لښکر سره ورروان شهٔ، په کور ئې ورغی. جمال له دې هسې افته غافل ؤ، مخې ته ورووت، تاب ئې د جنګ را نهٔ وړو، زخمي کور ته ننوت. عيسٰی په کور اور پورې کړ، په کښې اتيا کسه نر، ښځې، ووړکي، هلکان د وادهٔ هم په هغه کور کښې ورسره وسول. دا واقعه په سن زر سل درويشت وه. خدای دې له دې هسې افته امان وکا." (٣)

خواجه محمد سائل په خپل کتاب، عبدالحميد بابا، کښې ليکي چې د جمال خان واقعه د بايزيد انصاري او اخوند درويزه د تحريکونو تر اغېز لاندې رامېنځ ته شوی دی. ښاغلی سائل ليکي:

"جمال خان چونکې د پير تاريکي (بايزيد روښان) د تعليماتو په حق کښې ؤ نو له دغه کبله خلقو دی کافر او مرتد ګڼلو او دی ئې لکه د پير تاريکي (پير روښان) د خپلو ملګرو او همخيالو څخه په اور کښې وسوځولو." (۴)

د دې پېښې په باره کښې روايتونه ډېر دي. زياتره په يو نه يو ډول د جمال خان ناروا ته اشاره کوي او د عيسٰی د لوري مظلوموالی ښيي. د پېښې حقيقت چې څنګه ؤ، و به. اما هغه وخت ئې په پښتنو ژور اثر کړی دی. ډېرو شاعرانو او ليکوالو به دغه پېښه ثبت کړې وي. خو مونږ ته په دې باره کښې يواځې د درېوو لويو شاعرانو: رحمان بابا، حميد بابا، او عبدالقادرخان خټک قصيدې او دوو لويو ليکوالو: مېجر راورټي او د افضل خان تاريخي ليکنې راپاتې دي.

د جمال خان د مرګ د پېښې په باره کښې د تاريخي او اولسي روايتونو له کتلو وروسته، د پېښې باره کښې د يادو شويو درېواړو شاعرانو ليکلې قصيدې په خپلو کښې سره پرتله کوو.

## د رحمان بابا قصيده:

رحمان بابا د جمال خان له غمه په امان کښې نۀ دی پاتې، ژور اغېز ئې باندې کړی دی. نهه ويشت (۲۹) بيته قصيده ئې باندې ليکلې ده:

"ډېر ياران وو د ګل خان، د جمال خان
په کار نۀ شو يو په وخت د زارستان
د همه واړو يارانو مخ دې تور شي
که به څوک وبله ياري کا په دا شان
چې يو يار په سيوري ناست وي، بل په اور کښې
و هغو ته به څوک څۀ وائي ياران
هېڅ تعريف به ئې په ژبه روا نۀ شي
صد رحمت شه په ياريه د ګل خان
تر دا هورته د ياريه شرط نور څۀ دی
چې په اور کښې دواړه وسوځي يکسان
چې له اٰله، له اولاده سره وسول
خدای دې نۀ کا څوک دا هسې مظلومان
چې په اور کښې يو د بل دپاره سوځي
ما ليدلي نۀ وو هسې مخلصان
د نمرود چارې مې وليدې په سترګو
چې ئې اچول و اور ته مرسلان
څۀ رنګ شوخ ؤ هغه اور، هم هغه خلق
چې ئې مړ نۀ کړ د اوښيو په باران
الغياث دی، الغياث دی، الغياث دی

چې انسان کا هسې ظلم په انسان
و دې زمکې، و اسمان و ته عجب یم
چې نۀ زمکه په نارو شوه، نۀ اسمان
هم دې لویو، لویو غرونو ته حیران یم
چې ونۀ لوښته له وېښه سرغلطان
له دې خپله سپیه نفسه مې زړۀ بد شۀ
چې اوبۀ څښي یا خوارۀ خوري په جهان
عالم وائي چې قیامت به په جمعه وي
ولید ما په یکشنبه په دا دوران
سربندونه ګویا دشت کربلا وو
چې سېلاب شۀ د سرو وینو پرې روان
هزار حېف دی چې دا هسې رنګه چارې
واقع کېږي د دنیا په سود و زیان
په عیسیٰ او په جمال کښې ګناه نۀ وه
دا مکرونه وو د نفس او د شیطان
هسې نۀ چې دا ئې وکړه نور به نۀ کړه
چې ئې زړۀ شي، هغه کاندي بادشاهان
شاه عالم، اعظم وګوره چې ئې خسا کړ
په خونونو واړه ملک د هندوستان
و دارا و اورنګزېب و ته حیران یم
چې ئې څۀ چارې واقع شولې تر میان
د حسن، حسېن غزا دې څوک په یاد کا
چې همه واړه په تېغ شو شهیدان
دوه غاښې اوښۀ ئې وینو رغړوله
هسې بې حسابه خلق شۀ طوفان
هر چې اهل د دنیا دي، حال ئې دا دی
که سړي دي، که پېري دي، که حیوان

ادم زاد پـــه مـــخ د زمکـــې وبلـــه وژنـــي
پــه دريــاب کښــې وبلــه غوښــې خــوري ماهيــان
لکــه غوښــې چــې ماهيــان خــوري پــه دريــاب کښــې
پـــه هـــوا کښـــې هـــم دغـــه کانـــدي مرغـــان
خزنـــــده او پرنـــــده دي د دې دهـــــر
همـــه واړه يـــو تـــر بـــل مشـــت و ګرېـــوان
مـــرداري د دې دنيـــا خـــو هـــم دغـــه ده
ځکـــه بېرتـــه ځنـــې ګرځـــي دروېشـــان
مکـــاري د زمـــانې څـــه هـــومره نـــه ده
چـــې "رحمـــان" ئـــې کـــا و چـــا و تـــه بيـــان" (۵)

رحمـان بابـا پـه خپلـه قصـيده کښـې د دغـې پېښـې ګـزارش بيـانوي، وائـي چې ګـل خـان او جمـال خـان ډېـر يـاران لـرل. خـو پـه سـخت سـاعت کښـې ئـې يـو هـم پـه کـار نـۀ شـو. البتـه، پـه ګـل خـان ئـې سـل رحمتـه وئېلـي چې لـه جمال خان سره ئې يو شان په سرۀ اور کښې ځان وسوځاوۀ.

رحمـان بابـا د پېښـې مثـال ورکـوي، وائـي چـې د نمـرود چـارې ئـې اورېـدلي يـا لوسـتلي وې. امـا ليـدلي ئـې نـۀ وې چـې پېغمبـران بـه ئـې اور تـه اچـول. خـو پـه دې پېښـه کښـې ئـې هغـه هـم د سـر پـه سـترګو وليـدلې. يعنـې، رحمـان بابـا د جمـال خـان لـوری لـه ابراهيم عليـه السـلام سره او مقابـل لـوری ئې له نمرود سره تشبيه کوي:

دې پېښـې پـه رحمـان بابـا بانـدې ډېـر ژور اغېـز کـړی، ډېـر سـخت ئـې دردولـی دی، هـومره سـخت چـې پـه اور، خلقـو، مځکـه، اسـمان او هـر څـۀ بانـدې ئـې يـو سـخت صـوفيانه احتجـاج کـړی دی. د مبـالغې حـد ئـې د کتـو دی! وائـي د اوښکو پـه بـاران ئـې پـه کـار وو چـې وژلـی وی. دا چـې نـۀ ئـې دی وژلی نو په خپله ورته درست سره د حېرت يوه ټوټه ګرځېدلی:

رحمـان بابـا پـه پېښـه جمـال خـان يـا عيسٰـی خـان نـۀ ګرمـوي، د نفـس او شـيطان مکـر ئـې ګڼـي چـې دواړه لـوري پـه کښـې دل شـوي دي. د نفـس او

شیطان دغه مکر ښایي د مغلو هم هغه ټوم ته اشاره وي چې په تاریخ مرصع کښې ئې یادونه شوې ده:

خبره وړاندې نوره هم روښانوي، وائي چې پاچایان مدام هغه څۀ کوي چې زړه ئې غواړي. یعنې، دغه واقعه د هغه وخت د حکومت په ټس شوې چې د مغلو ؤ:

## د عبدالقادرخان خټک قصیده

عبدالقادرخان خټک چې په سبا له پېښې خبرېږي نو خپل تأثرات د قصیدې په چوکاټ کښې قلمبندوي. دغه قصیده اووۀ ویشت (۲۷) بیته ده:

"دا کارونه چې نن ګانده عیاني دي
هیڅ په خوا، په خاطر نۀ وو، اسماني دي
چې په وهم، فهم نۀ، هغه ښکارېږي
هوښیار ځکه همېشه په حیراني دي
ګهې هسې کار ښکاره شي چې غمژن شي
ګاه کارونه په سبب د شاماني دي
ساقي راوړه پیاله چې راته یو شي
غم، ښادي ثبات هیڅ نۀ لري، اني دي
نن نسیم د پېښور له لوري راغی
څۀ وینا ئې راته کړې زباني دي
چې نن شپه مومندو ووهلې توري
چې وهلې نۀ افغان، نۀ توراني دي
لیندو غړ په غشیو وکړه کشاد کانی
په سرتور توري وهي، جمال خاني دي
ګوی له میانه د جمال سپایانو یوړ
چې په ننګ توره وهي، جانفشاني دي
چې لښکرې د مظلومو اعانت کا

خدای ئې مل شه، دا لښکرې رحماني دي
لاله زار ئې شګفته په سرۀ اهار کړ
هر چې دا بهار نۀ ګوري، زنداني دي
د بارې اوبۀ ئې سرې لکه شراب کړې
د سربند کاڼي همه ارغواني دي
يګانه زلميو غر و بله وکړ
چې وهه، فلانی وهه!! هندوستاني دي
توره شپه په تورو ورځ لکه سبا شوه
ځلېدل ئې لکه برق نيساني دي
همېشه پښتون مومندو دی درونډ کړی
که سبب ئې د خفت مير افغاني دي
چې په طمع د دنيا کاندي جنګونه
رنګ ئې ورک شه، که رستم دستاني دي
يوسفزي چې زر ووينې ننګ پرېږدي
حريصان دي، طامعان دي، نفساني دي
په خولۀ هر پښتون د ننګ خبرې کاندي
ننګ هغه کا چې ناني نۀ دي، جاني دي
زر ناني شه صدقه تر جاني ځوانه
پښتون ډېر دی، اما څۀ په کار ناني دي
دا متل دی، تېغ په اصل غوځول کا
د مومندو تورې اوس نۀ دي، کاني دي
افريدي، شينواري جنګ په غرونو کاندي
غورياخېل په ميدان جنګ کا، ميداني دي
مخ ئې نۀ دی د کتو، رنځ دې پرې ښايي
چې نفاق کا، همېشه په پښېماني دي
فريفته ئې په وئېل مه شه نفاق دی
هغه څوک چې د لښکر په ويراني دي

د مغــــل لــــه دې لښــــکرو پــــروا مــــه کــــړه
اتفــــاق ئــــې ســــره نشــــته، ځــــان ځــــاني دي
پــــه قســــم ئــــې مبــــادا چــــې بــــاور وکــــړې
ســــوګندونه ئــــې دامونــــه شــــيطاني دي
لــه بادشــاه، لــه شــهزادګانو چــې وســواس وي
اختــــه شــــوي دوی پــــه جنــــګ ســــلطاني دي
د ســــرونو نردبــــان ســــاز کــــړه، بانــــدې خېــــژه
مرتبــــې تــــه ختــــل نــــۀ پــــه اســــاني دي
نــۀ لــه چــا ئــې طمــع شــته، نــۀ لــه چــا وېــره
څــــو خبــــرې رښــــتيا کــــړې "کرلانــــي" دي". (۶)

عبـدالقادرخان ختـک د جمـال خـان د مـرګ د پېښـې پـه بـاره کښـې خپـل تـأثر لـه مغلـو سـره د ختکـو د کـورنۍ د وروسـتيو اړيکـو پـه رڼـا کښـې بيـانوي. دی دغـه پېښـه د افضـل خـان غونـدې د مغلـو لـه تومـه ګڼـي او بـاور لـري چې جمـال خـان د مغلـو نـوکر دی او د مغلـو د نـاز او امتيـاز لـه کبلـه ئـې پـه خپلـو عزيزانـو وردانګلـي دي. پـه مقابـل کښـې ئـې قـوم پـه نـور عيسٰـی ننـګ کـړی او د جمـال خـان ئـې سـته ايسـتې ده. عبـدالقادرخان ختـک جمـال خـان بانـدې شـوی يلغـار ډېـر سـخت سـتايلی او د زړۀ لـه تلـه وربانـدې خوشحاله دی:

عبـدالقادرخان ختـک تـه چـې د جمـال خـان د لولپـه کېـدو خبـر ورځـي نـو د نسـيم غونـدې وربانـدې خـوږ لګيـږي، وائـي چـې مومنـدو بېګـا تـورې وهلې دي:

عبـدالقادرخان د عيسٰـی لښـکر تـه رحمـاني لښـکر وائـي. ځکـه چـې د دۀ پـه خيـال، د مظلومـو مرسـته ئـې کـړې ده. دۀ تـه دا ننـداره د بهـار غونـدې ښـکاره شـوې، ډېـر خونـد ئـې ځنـې اخسـتی. تـر دې پـورې چـې د يـوې ناليدلې صحنې ډېر لوړ منظر ئې کاږلی دی.

عبدالقادرخان ختک د دې پېښې د نتیجې په مټ خلق دې ته هڅوي چې که مرتبه او دبدبه غواړئ نو دا څۀ اسانه کار نۀ دی، دا د سرونو په پوړۍ ختنه غواړي:

## د حمید بابا قصیده

د جمال خان د مرګ پېښې حمید بابا باندې هم ژور اغېز کړی، بېتابه شوی او پینځه ویشت (۲۵) بیته قصیده ئې باندې لیکلې ده. قصیده دا ده:

هر سردار چې د خپل قوم د بدو خیال کا
آیینه دې د خپل ځان حال د جمال کا
پرې کوي تر خپلو پښو لاندې ښاخونه
چې بدي د عزیزانو په زړۀ نهال کا
عاقبت هغه سردار شي مردار پاتې
چې ئې نس و خپلو بدو ته لېوال کا
چې د بل و سر و مال و ته هوس کا
تر هغه پخوا به ورک خپل سر و مال کا
هم هغه به په کښې پرېوځي دا متل دی
چې و بل و ته کوهی کني وبال کا
د هغو په خونه پېښ جنګ و قتال شي
چې هوس د چا د جنګ او د قتال کا
چې له خپلو لاس و پښو شي بې مجاله
له غلیم سره به جنګ په کوم مجال کا
په پردو مېړانه نۀ کېږي، بې خپلو
له لحده دا اواز جمال، جلال کا
که بابنه د باز و ښکار په ډکه واخلي
هېڅ به ونۀ کا، ځان سترې، پوچ، کشال کا
له زرګونو بری نۀ شي وړی سلګونه

مګر خواه، ناخواه ئې فتح ذوالجلال کا
چې تر خپله حده پښې غزوي وړاندې
زمانه به ئې جمال غونډې پايمال کا
چې په زور د بل جامه اغوندي ځان ته
ناشسته به ئې د خپل زخم دسمال کا
پردۍ بخرې هيچا نۀ دي خپلې کړې
بلکې خپلې به پرې بايلي چې دا خيال کا
د جمال په څېر به وسېځي پرې خپسر
چې پرواز هر پروانه په دا مشال کا
نالايق چې لايقت په نسب غواړي
د بربښنا په رڼا ستن پېيي جنجال کا
هم دا هسې نتيجه په لاس وردرومي
چې د ښو په بدله کښې څوک ناخوال کا
نۀ نېکي په ناکسانو څرګندېږي
نۀ په بټې باندې اثر اب زلال کا
لکه لوی کړې لېوبچه درباندې ترپلې
حال زمونږه د جمال هم دا مثال کا
لکه ګرم چې په حسن، حسېن يزيد ۀ
هسې ګرم په مونږ جمال ۀ که څوک سوال کا
دا چې شوي دي له هسې ناچاريئې
لکه سويه په سپي ترپلي، انفعال کا
ناخبر له حاله هر چې وائي ښايي
خبردار مدام په عذر قيل و قال کا
د هغو په سبب تل سوځي نور خلق
چې د توري اسره ورکه په دېوال کا
خو بدنام په دا جمال خدای خدرېزي کړۀ
ګنهه هره چار په خلقو خپل اعمال کا

پــــه ازل د ســـــود او زيـــــان ســـــودا دي شـــــوې
ملامـــــت څـــــۀ لـــــره خلـــــق پـــــه دلال کـــــا
دا دودونـــــــــــه د دې دور دي "حميـــــــــــده"
يــو د بــل پــه مــرګ مــلال کــا بــل خوشــحال کــا. (۷)

حميـد بابـا ځـان پـه صـراحت سـره د پېښـې لـورى ګڼي، خـو د پېښـې پـه بيـان کښـې مبالغـه، غلـو يـا اغـراق نـۀ کـوي، ژوره نتيجـه ځنـې اخلـي او لوستونکي او اورېدونکي تنبيه کوي:

حميـد بابـا د جمـال خـان حالـت ښـيي چـې لاس او پښـې ئـې بـې سـپکه شـوي دي. عزيزانـو ځنـې ځـان ورتـول کـړى او عيسٰـى خـان پـه دغسـې وخـت کښــې وربانـدې بريـد کـړى. عيسٰـى خـان لـومړى د جمـال خـان خـلاف د قـام او عزيزانـو عـواطـف ځـان تـه ورجلـب کـړي او بيـا ئـې جمـال خـان بانـدې يرغللـي دي. البتـه، کـه لـه جمـال خـان سـره ځـوک دغـه وخـت وو نـو هغـه پـردي خلـق وو، يـواځې مغلـو ورسـره مرسـته کولـه. حميـد بابـا وائـي چـې پـه داسـې حالـت کښې به ځوک څۀ د غليم مقابله وکړي:

حميـد بابـا د جمـال ذکـر د تېـري او تجـاوز د مثـال پـه توګـه کـوي، وائـي چـې ځـوک هـم د هغـۀ غونـدې خپـل بريـد نـۀ پېژنـي او د بـل جامـه پـه زوره اغونـدي نـو بدن باندې به ئې ټپونه جوړېږي او د زمانې په قهر به اخته کيږي:

پـه پاسـنيو بيتونـو کښـې "د بـل جامـه اغوسـتل" د پېښـې موجبـات لـره څـۀ درنـوي. زمـا پـه فکـر، حميـد بابـا پـه مثـال مثـال او اشـاره کنايـه کښـې د څـۀ حـرام نمکـۍ يـا زبردسـتۍ ذکـر کـوي چـې لـه جمـال خـان يـا د هغـۀ لـه زوى جـلال څخـه شـوې ده. خلـق جامـه د پـردې لـه پـاره کـاروي. پـه قـرآن شـريف کښـې هـم نـر د ښـځې او ښـځه د نـر جامـه بلـل شـوې ده. د بـل جامـه د بـل پـرده او حيـا ده او ځـوک چـې د بـل پـرده او حيـا پـه زوره د ځـان کـوي نـو د خپـل زخـم دسـمال بـه ئـې نـاوللى پـاتې کيـږي خپـل زخـم تـه بـه ئـې تـر اغوسـتلو يـا مينځلـو مخکښې دسمال کيږي.

د تاریخ مرصع د روایت دې جمله کښې چې وائي "په دا میان کښې د جمال د زوی د واده کار پېښ شه." د "پېښ شه" مفهوم هم دغه ادعا مضبوطوي. داسې ښکاري چې د دغې پېښې تر شا د کومې خونړۍ مینې یا په زور او زبردستۍ د چا د خور، لور یا حیا د تر کوره کولو داستان پروت وي. د قصیدې په یو بیت کښې د "پروانه" د "پرواز" مثال دغه فقره لا پسې پخوي. ځکه چې پروانه زمونږ په ژبه او ادب کښې د مینې د علامت په توګه بېخي جوت دی او حمید بابا د مینې هغه "مشال" باندې چې دی ورته اشاره لري، د "پروانه پرواز" عیسیٰ خان باندې د جمال د بلوسې د استعارې په توګه کاروي:

داسې ښکاري چې حمید بابا د رحمان بابا قصیده لوستې ده. رحمان بابا په دا پېښه، په تېره بیا د لسګونو خلقو په مرګ ډېر دردېدلی او ژړېدلی، د عیسیٰ چارو ته ئې د نمرود چارې وئیلې، شوې پېښه ئې قیامت بللې ده. خو حمید بابا چې د پېښې له جزئیاتو پوره خبر دی، ځکه په خپله قصیده کښې وائي چې له حاله ناخبر که هر څه وائي باک ئې نشته. مګر خبر خلق مدام له عذر سره خبره کوي. دی زیاتوي چې له وچو سره لانده خامخا سوځېږي:

رحمان بابا د پېښې له قربانیانو سره د خواخوږۍ په مخه خلقو ته د حسن او حسین رضی الله عنهما غزا تداعي کوي چې په تېغ شهیدان شوي او د عام روایت مطابق، دوه غاښې اوښه ئې په وینو کښې رغړېدلې ده.

د حسن، حسین غزا دې څوک په یاد کا
چې همه واړه په تېغ شو شهیدان

خو حمید بابا د رحمان بابا وسله د رحمان بابا خلاف کارولې، ویلې ئې دي:

لکه ګرم چې په حسن، حسین یزید ؤ
هسې ګرم په مونږ جمال ؤ که څوک سوال کا

رحمان بابا د دنیا په سود او زیان د دغه ورځ چارو په کېدو سل افسوسه کوي:

هزار حیف دی چې دا هسې رنګه چارې
واقع کیږي د دنیا په سود و زیان

خو حمید بابا ئې له خولې خبره وراخلي، استدلال کوي چې د سود او زیان سوداګانې په ازل کښې شوې دي، د دلالانو په دې کښې څۀ قصور نشته:

په ازل د سود و زیان سودا دي شوې
ملامت څۀ لره خلق په دلال کا

د یادونې وړ ده چې څېړندوی حبیب الله رفیع هم خپله یوه مقاله کښې د رحمان بابا د قصیدې تر اغېز لاندې دې پېښې باندې بحث کړی او د پېښې باره کښې د رحمان بابا عاطفي دریځ ئې ستایلی دی. دۀ د حمید بابا دریځ د پېښې د لوري او مدعي په توګه او د عبدالقادر خان ختک دریځ د پېښې له جزئیاتو څخه د احتمالاً ناخبره په توګه ناسم بللی. البته، عبدالقادرخان ئې په دې معذور ګڼلی چې د پېښې په سبا ئې له واره د پېښې باره کښې غبرګون ښودلی دی. څېړندوی رفیع لیکي:

" حمید مومند چې د عیسٰی مومند د خېل، پرې جنبې او ګوندی یو فرد دی، په دې پېښه نۀ یواځې دا چې خواشیني نۀ ښیي، بلکې دا د نورو له پاره د عبرت وړ پېښه بولي.... حمید بابا د مدعي په توګه د دفاع په حال کښې دی. د عیسٰی مومند کارروائي انتقامي کارروائي ګڼي او د جمال له پردو (مغولو) سره لاس یو کول خیانت بولي او هم په تلمیحي انداز کښې دا ښیي چې عیسٰی له جمال سره ډېرې ښېګڼې کړې وې او دۀ د هغو په مقابل کښې په خیانت لاس پورې کړ او د دۀ کلی ئې لوټ او شته ئې یوړل...." (۸)

حبیب الله رفیع د پېښې باره کښې د عبدالقادرخان ختک انتباه داسې بیانوي چې:"... جمال د مغولو نوکر دی او عیسٰی د پښتونولۍ له امله په هغۀ برید کړی دی او دا برید د یوې ملي حماسې په توګه ستایي

او هم ئې دا بولـله د پښتنې په سبا لیکلې نـو ښایي دۀ تـه د پښتنې ټـول تفصیل لانۀ ؤ رسېدلی او یوائې د یوې عادي جگړې په توگه ئې روایت اورېدلی وي او د ښځو او ماشومانو د سوځول کېدو په پښتنه نۀ وي خبر شوی او که خبر وی نو یقیناً چې عبدالقادرخان هم یو نری انساني زړۀ درلود او ښایي بې اختیاره په دې قیامت ډوله فاجعه ژړېدلی وی...." (۹)

ښاغلی رفیع د حمید بابا او عبدالقادرخان ختک د تأثراتو تر شننې او ارزونې وروسته د پښتنې باره کښې د رحمان بابا په تأثراتو رڼا اچوي او د هغۀ د دریغ ننگه کوي، لیکي: "خو له دې پښتنې نه د رحمان بابا برداشت او له دې پښتنې سره د رحمان بابا برخورد په بشپړ ډول انساني او هیومانستي دی. موضوع له بېلابېلو پښتني، انساني، عاطفي، سیاسي او مادي اړخونو څخه څېړي او د خپلې انسان دوستانه او په معنویت ولاړې عقیدې له مخې نتیجه ترې اخلي...."(۱۰)

زما په فکر، د عیسٰی او جمال ترمېنځ حقوقي موضوع د جمال یا د دۀ د زوئ د زبردستۍ او ناعاقبت اندېشۍ له کبله جنایي شوې او فاجعه ئې زېږولې ده. د داسې فقرو د پلټنې په مهال په احساسي او عاطفي فکټرونو تکیه کول عادلانه روش نۀ دی.

## توپیرونه، مماثلتونه او ځانگړتیاوې:

### الف : د رحمان بابا قصیده

نهه ویشت بیتونه لري. مصرعې ئې یوولس یوولس څپې دی. یوولس قافیې (یاران، مظلومان، مخلصان، مرسلان، سرغلطان، دوران، بادشاهان، شهیدان، ماهیان، مرغان، درویشان) ئې غږیزې یا سستې دي. دا درستې د یار، مظلوم، مخلص، مرسل، سرغلط، دور، بادشاه، شهید، ماهي، مرغه، درویش د کلمو جمع شکلونه دي. د دې کلمو مفرد شکلونه یو هم سره نۀ قافیه کیږي.

د غړیزو یا سستو قافیو کارولو ته ئې د قصیدې په بنسټ (مطلع) کښې هم لاره نۀ ده پرېښې. داسې متضاد شیان ئې هم سره قافیه کړي چې ځنې استادان ئې عیب ګڼي. لکه: شیطان او سبحان.

په یوه مصرعه کښې د جن و انس د مفهوم د دوېمې برخې انس په ځای د سړي کلمه کاروي چې ښځې په کښې له پامه اچول کیږي. په دې سربېره، د حیوان کلمه د قافیوي اړتیا له مخې کاروي. ګنې سړي او پېري هم قسما د حیوان ګټګورۍ کښې راځي.

فارسي او عربي کلمې ئې کارولې دي، خو د لوستونکي یا اورېدونکي خوا خاطر ورسره نۀ درنیږي. فقط د سرغلطان مرکبه کلمه ئې د رغښت له پلوه پیکه ده. سرغلطان په "ط" نه بلکې په "ت" لیکل کیږي. فارسي فرهنګونو هم دغه کلمه نۀ ده درج کړې.

ردیف نۀ لري، د ردیف برخه اهنګ ئې په یوه اضافي زونګه یا ترنم پوره کوي. تمهید او تشبیب نۀ لري. موضوع ئې له واره په خبري یا روایتي توګه طرح کړې ده.

د ګزارش یا رپوټ لیکلو زیاتره اصول په کښې مراعت شوي دي، د پېښې وخت، ځای، علت، عامل، غرض او نور هر څۀ په کښې ښودل شوي دي. د خپل موډ او پیغام مطابق بحر او اهنګ ئې انتخاب کړی، مرثیه ئې لیکلې ده. ژبه ئې ساده او روانه ده. د پېښې تمثیل ئې له پېښې سره اړخ نۀ لګوي. ځکه چې دلته مرګ، ژوبله په اور شوې، نۀ په تېغ!

رحمان بابا دغه قصیده په بوډاتوب کښې لیکلې ده او په دغه پېښه غمژن دی. د پېښې تر شا د څۀ طمعې یا توقع خبره کوي. جمال او عیسیٰ دواړه بېګناه ګڼي. ټوله پړه په نفس او شیطان اچوي.

## ب) د عبدالقادر خان خټک قصیده:

اووۀ ویشت بیتونه لري. مصرعې ئې دولس دولس څپې دی. یواځې یوه قافیه (نفساني) ئې غړیزه یا سسته ده. ځکه چې اصلي کلمه نفس دی او نفساني د نفس نسبتي یا اضافي بڼه ده.

ردیف لري خو هغه ښکلا او اهنګ نهٔ لري چې له ردیف څخه ئې طمع کیږي. یعنې ردیف په اهنګ کښې څهٔ تنوع نهٔ ده راوستې، فقط د قافیې د وروستی برخې اهنګ ئې تکرار کړی دی. د قصیدې مقطع کښې د قافیې توریو کښې روي بدل دی، د "ن" په ځای "ڼ" راغلی دی. د قافیې په برخه کښې د ایطا عیب هم لري. فارسي، عربي او هندي کلمې ئې کارولې دي. زبردسته منظرکشي لري، چې نهٔ د رحمان بابا په قصیده کښې شته او نهٔ د حمید بابا.

د خوشحال بابا د شعر اغېز وربانـدې جوت دی. د هغهٔ د یوې عارفانه غزلې په مځکه ئې لیکلې ده. البته، د مصرعو څپې ئې دوه ځنې کمې کړې او بحر ئې وربدل کړی دی. خوشحال بابا وائي:

رنګ د هغو ورک شه چې ئې مینې نفساني دي
یوه مینه باقي ده، نورې کل مینې فاني دي

تمهید او تشبیب لري او موضوع ئې په تلمیحي توګه طرح کړې ده.

د خپل موډ او پیغام مطابق بحر او اهنګ ئې انتخاب کړی، طربیه ئې لیکلې ده.

عبدالقادرخان خټک هم دغه قصیده په بوډاتوب کښې لیکلې ده. دی په پښته خوشحاله دی. د ښو زېری ئې ګڼي. په دې کار مومندو ته شاباسی وائي او خلق هڅوي چې که څهٔ مرتبه غواړي نو د سرونو نردبان دې جوړ کړي. دی هم دغه پښته د مغلو له تومه ګڼي او په پښته کښې تس نس شوي کسان د مغلو پلویان بولي. په دې سربېره، د قصیدې په ترخ کښې ئې یوسفزي له هغوی سره د خپل کورني خصومت له کبله کنځلي دي. دهٔ د خپلې قصیدې په یو بیت کښې د مومندو توره ستایلې. خو په ستایلو ستایلو کښې ئې د افغان له اصل نسل څخه ایستي دي: دی وائي:

چې نن شپه مومندو ووهلې تورې
چې وهلې نهٔ افغان، نهٔ توراني دي

له پاسني بیت څخه دا معنا هم اخستی شي چې مومند ګڼې افغانان نهٔ دي.

## ج) د حمید بابا قصیده:

پینځهٔ ویشت بیته ده. مصرعې ئې دولس دولس څپې دی. غږیزه یا سسته قافیه نهٔ لري. ردیف ئې لنډ دی. خو په اهنګ کښې ئې تنوع راوستې، د زونګې چانس په کښې ډېر دی. ځکه چې د قافیې په کلمه کښې اهنګ لوړیږي. د قافیې په اخر کښې د قافیې د هم اهنګۍ برخې په لومړي توري کښې اهنګ لوړیږي او په دوېم توري کښې ورو پرېوځي، خو له پرېوتو سره سم په ردیف (کا) بېرته ډېر ژر جګیږي. په پسارهٔ او اوږدهٔ ښهٔ غزېدلې، زبردسته داخلي اهنګ او موسیقي لري. زیاتره مدعا او مثل کاروي چې د هندي سبک یوه مهمه ځانګړتیا ده. تر تمهید او تشبیب وروسته ئې موضوع په انتباهي توګه طرح کړې ده. انتباه، پند او نصیحت په کښې زیات دی. ردیف ئې د عبدالقادرخان د قصیدې د ردیف غوندې لنډ مګر اهنګین دی.

فارسي او عربي کلمې ئې کارولې، خو د بنده خوا خاطر ورسره نهٔ درنیږي.

د خپل موډ او پیغام مطابق بحر ئې انتخاب کړی او هجوه ئې لیکلې ده. ژبه ئې سوچه او کره ده.

حمید بابا دغه قصیده پخه ځوانۍ کښې لیکلې ده. د وینا انداز ئې فاتحانه او حکیمانه دی. له پېښې څخه ئې نتیجه اخستې. له دې سره سره چې د جمال خان په مخالف لوري کښې دی، خو د پېښې په باره کښې خپل فکر او نظر د حکم په حېث بیانوي او ټوله پړه په جمال خان اچوي. ناویلې دې پاتې نهٔ وي چې د مردار کلمې ئې لاندې بیت له فصاحته لږ څهٔ پرېیستی دی.

عاقبت هغه سردار شي مردار پاتې
چې بدي د عزیزانو په زړهٔ نهال کا

**نتیجه:**

درېڅ واړه قصیدې داستاني اهنګ لري. په عامه اصطلاح، درې واړه د رباعي یا مقام په اهنګ کښې لیکل شوې دي. د عبدالقادرخان خټک قصیده کښې په عالي کچه تمثیل او انځورګري شوې ده. خو د رحمان بابا قصیده تر ډېره حده او د حمید بابا هغه بیا درست سره له دغه مزیته عاري ده.

رحمان بابا د پېښې علت د دنیا لالچ بللی. نه ئې عیسیٰ خان ګرم کړی او نه جمال خان. ټوله پړه ئې په نفس او شیطان اچولې. خو حمید بابا بیا جمال خان ګرم ګڼلی او عبدالقادرخان خټک د حمید بابا د دریځ ننګه کړې ده.

د سربند یا سربندونو د نندارې باره کښې، چې پېښې ته څېرمه ځای دی، د رحمان بابا او عبدالقادرخان خټک تأثرات بېخي متفاوت دي، یو ته د کربلا دښته ښکاري او بل ته یو ارغواني منظر.

د عبدالقادرخان خټک قصیده کښې د حسن او حسېن رضی الله عنهما مثال د حمید بابا قصیده کښې د حسن او حسین رضی الله عنهما د مثال غوندې په ځای سم نۀ دی ناست. او هغه تمثیلي بیت ئې هم د جمال خان د مرګ له پېښې سره اړخ ځکه سم نۀ لګوي چې دلته مرګ ژوبله په اور شوې، نۀ په تورې یا تېغ!

د رحمان بابا په مثال کښې عیسیٰ خان د نمرود او جمال خان د مرسلانو یعنې ابراهیم علیه السلام په موقعیت کښې راځي چې د کفر او اسلام د تفاوت له کبله له نمرود سره د نورعیسیٰ ورته کول شرعي جواز نۀ لري. خو د حمید بابا په قصیده کښې د حسن او حسېن او یزید مثال کښې عیسیٰ خان د حسن او حسېن او جمال خان د یزید په موقعیت کښې راځي چې په اسلام کښې د ننه ئې له ظالم او مظلوم سره ورته کولو کښې څۀ حرج نشته. دغه راز، رحمان بابا د نمرود د اور مثال ورکوي چې له مرسلانو ئې چاپېره بل کړی و. دا د کافر او مسلمان تر مېنځ ماجرا ده. خو حمید بابا له حسن او حسېن رضی الله عنهما سره د یزید د سلوک

یا چارچلند مثال ورکوي چې په مسلمانانو کښې د تنه د ظالم او مظلوم خونړۍ شخړه او ټریجیډي ښیي.

هغه څۀ چې د دې پېښې په باره کښې له تاریخي پلوه مهم دي، دا دي چې رحمان بابا ئې ورځ او عبدالقادرخان خټک ئې میاشت ښودلې ده. عجب اتفاق به وی، که حمید بابا د پېښې دقیقه نېټه په ګوته کړې وی. کال خو ئې هغه دی چې مېجر راورټي او افضل خان ښودلی دی.

رحمان بابا د شاه عالم او اعظم ذکر کوي چې په مرګونو ئې درست هندوستان خسا کړ. د شاه عالم او اعظم جنګ د ۱۱۱۹ هجري کال د ربیع الاول په ۱۸مه نېټه د جاجو په میدان شوی دی. د رحمان بابا له دغه بیت څخه د جمال خان د مرګ د پېښې مهال څرګندېږي چې تر ۱۱۱۹ وروسته رامېنځ ته شوې ده. ځکه چې ناصرخان د شاه عالم د بادشاهۍ په پیل کښې صوبېدار شوی دی.

د حمید بابا او رحمان بابا د قصیدو له مطالعې څخه دا خبره هم جوتیږي چې حمید بابا د رحمان بابا قصیده لوستې یا اورېدلې او په خپله قصیده کښې د هغۀ ځواب وائي. البته، د حمید بابا له ځینو اشارو او کنایو څرګندیږي چې د پېښې اصلي محرک د پښتانۀ د ننګ او ناموس مسئله ده. د جمال خان د زوی د وادۀ په شپه د هغۀ په کور کلي برید، د دغه وړ یوې حساسې مسئلې پخه قرینه ده. په دې سربېره، د تاریخ مرصع په روایت کښې د جمال د زوی د وادۀ کار اتفاقي ګڼل هغه د معمولو ودونو له قطاره باسي. معمول ودونه د پلان او پروګرام له مخې کیږي. لومړی چا باندې د خېښۍ له پاره جرګه مرکه کیږي او څو څو وارې کیږي. بیا هوکړه وشي. بیا کوژدن وشي. وروسته د وادۀ لنډون او په اخر کښې وادۀ وشي. مګر، د جمال خان د زوی د وادۀ کار دومره د معمول خلاف کیږي چې مغلي حاکم، د کابل صوبېدار، ناصرخان هم پېښې ته پښه وردننه کوي او د وادۀ له پاره ئې ورته دوه زره روپۍ وراستوي. او هغه اولسي روایت چې وائي دغه جنګ په سرګړي شوی ؤ، دا خبره کره کوي چې دغه ډله یېزه وژنه دې په سرګړي شوې وي. سرګړی

هغـه ګیـاه ده چـې ډېـر ژر او اسـانه اوور اخلـي او د سـترګو رپ کښـې هـر څـهٔ لولپـه کـوي. داسـې ښـکاري چـې د جمـال خـان کـور کلـی لـه سـرګړي مالامـال ؤ. او چـې کلـه اور ورتـه شـوی نـو بيـا ئـې چـا تـه دا مجـال نـهٔ دی ورکـړی چـې ځـان ځنـې وژغـوري. پـه هـر حـال، د ظلـم پـه وړانـدې قيـام حـق دی. خـو، د ځپېړې ځواب سوک نهٔ وي.

❁❁❁

# حوالې


(1) مومند، کامل، دوست محمد خان. رحمان بابا، د چاپ ځای، کوهاټ روډ، پېښور، ۴۳، ۴۴ مخونه، ۱۹۵۸.
(2) هم دغه، ۴۵ مخ.
(3) افضل خان. تاریخ مرصع، یونیورستي بک اېجنسي، پېښور، 1974، مخ 402.
(4) سائل، خواجه محمد. عبدالحمید بابا، عظیم پبلېشنګ هاؤس، خیبر بازار، پېښور، 1985، مخ 49.
(5) مومند، کامل، دوست محمد خان او قلندر مومند. د رحمان بابا کلیات، د چاپ ځای، کوهاټ روډ، پېښور، 1984، مخونه 159، 162.
(6) نیاز، جهانزېب، پروفېسر. د عبدالقادرخان خټک دیوان، پښتو اکېډیمي، پېښور یونیورستي، 2002، مخونه 257، 258.
(7) هېوادمل، زلمی، سرمحقق. د عبدالحمید مومند دیوان: د افغانستان د علومو اکاډیمي. د ژبو او ادبیاتو مرکز، کابل، 1363، مخونه 34، 37.
(8) رفیع، حبیب الله، څېړندوی. رحماني خم، د ختیزې سیمې لیکوالو او ژورنالستانو خپلواکه ټولنه، 1387، مخونه 136، 139.
(9) هم دغه، ۱۴۰ مخ.
(10) هم دغه، ۱۴۳ مخ.